# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| Children | کودکان |
|---|---|



**صمد بهرنګي**
**ژباړه: ف. رووفي**


## اولدوز او کارغان

(دريمه برخه)

### د کب پر سر شورماشور او د کارغه د مور د اعدام حکم

په حوض کې څو سره او کوچني کبان وو. شپږمه يا اوومه ورځ وه چې اولدوز يو کب ونيو او د کارغه بچي ته يې ورکړ او هغه وخوړو. دا لومړی کب و چې خوړو يې. د مور نه يې اوريدلي و چې ماهي ښکار او خوړل ډيره مزه لري خو ليدلي يې نه و چې څنګه خوړل کيږي. د ده مور د اولدوز د ميرې په شان نه وه. په ډيرو شيانو پوهيده. په دې پوهيده چې څه شی يې زوي ته ښه دی او څه شی ورته بد دی. که د کارغه بچي ورنه بد شي غوښتلو نو ورته نه ګوريدله. ويل به يې چې: زويه! دا درته نه راوړم ځکه چې فلاني ضرر لري. که فلانی شی وخوری نو ښه قاغ قاغ نشي کولای. ځکه چې غږ دې نښلي. ځکه چې....

د ټولو شيانو علت به يې وايه. خو ميره داسې نه وه. تل به يې په توند خويې سره ويلې: اولدوز فلاني کار مکوه. فلانی شی مه خوره. فلانی ځای ته مه ځه. داسې مکوه، هغسې مکوه. سمه کينه. په جګ آواز خبرې مکوه. ولې پس پس کوې او داسې نورې خبرې. ميرې يې هيڅکله نه ويل چې مثلاً ولې په لوړ آواز خبرې ونه کړې، ولې بايد غرمه بيده شې. اولدوز لومړی فکر کاوه چې ټولې ميندې د ميرې په شان دي. وروسته چې د کارغه مور سره آشنا او بلده شوه، فکر يې هم بدل شو.

ميره يې سبا ته پوه شوه چې يو کب نشته او چيغې يې آسمان ته پورته شوی. د غرمې ډوډۍ پر وخت يې ميره ته وويل: دا کار، د کارغه کار دی. هاغه کارغه چې راځي او د ډنډ د غاړې نه صابون پټوي. ډير چاغ دی. که وی نيسم پر دار يې ځړوم. پهانسي کوم يې.

د کارغه مور ته يې بدې بدې کنځلې هم وکړی. اولدوز غلې وه که څه يې ويلې ميره يې پوهيدله چې دا د کارغه سره اړيکي لري. په تيره بيا چې يوه ورځ مخکې نژدې و د ډنډ پر غاړه يې ګير کړي.

ميره يې وويل: اصلاً کارغان ټول ناولي دي. ټول غله دي. په ټول عمر کې مې يوه ښه کارغه ندی ليدلی. ښه ده، ځارنه يې کوه، که نه، نو يو کب په ډنډ کې نه پريږدي چې پاتې شې.

ميرې يې وويل: هو، بايد ځارنه يې وکړم، اوس چې د ماهيانو په خوند شوخند وهلی، زړه يې غواړي چې ټول يې وخوري.

اولدوز په زړه کې د خپلې ميرې په کم عقلتوب وخندلې. ځکه چې کارغان غاښونه نه لري. دا د کارغه مور په خپله ويل.

### د کارغه مور په ډيرو شيانو پوهيږي او له مرګه نه داريږي

غرمه د کارغه مور راغله. ټول بيده وو. دواړه د توت د ونې د سيورې لاندې کيناستل، اولدوز ورته ټول شيان وويل:

د کارغه مور وويل: فکر يې مکوه. که ميره دې وغواړي ما ونيسي سترګې به يې راوباسم.

وروسته يې د کارغه بچي د کوچګی نه راوويست. اوس د کارغه بچي خبرې کولې – البته د اولدوز او د کارغانو د مور په شان نه. خو د ځان په نسبت يې خبرې بدې نه کولې. لږ يې په ګلانو او بوټو کې ټوپونه ووهل، آخوديخوا

وګرځید، وزرې يې ووهلي او بیا د مور په څنګ کې کیناست. مور يې وروښودل چې څنګه خپلې وزرې په منښوکه کې ونیسي اووږ ځنډي.
د کارغه مور د کیڼ څانګ لاندې ټپ درلود، هغه يې اولدوز او زوي ته ښکاره کړ. وې ویل: دا پنځوس شپیته کاله پخوا ټپي شوی و. د صابون غلا پسې تلی وم، صابون جوړونکي په کوتك ووهلم او ټپي يې کړم. پوره پنځه کاله تیر شول چې ټپ مې ښه شو. صحرايي میوې مې وموندلې او ومې خوړلې اخر ښه شوم.
اولدوز د کارغه د مور د باسوادی او پوهې نه حیرانه شوه او هیله يې کوله چې کاشکې د دې په څیر مور يې درلودای. خپله مور يې نه په یادیدله. یوازې یو ځل یې د میرې نه اوریدلي و چې مور هم لري. یوه ورځ د میرې او پلار يې لانجه وه. میرې يې وویل: لور دې هم کلي ته بوځه، مور ته يې پریږده، زه نور د دې خدمت نشم کولی. همدا نن سبا زه د خپل بچې خاونده کیږم.
ریښتیا چې د مور ګیډه يې پړسیدلې وه او د لونګوان وخت يې و.
یو دوه ځلې د اولدوز تره هم ورته د مور څه خبرې کړې وی. تره يې کله کله د کلي نه ښار ته راتله او دوې ته به ورښکاره کیده. اولدوز دومره پوهیده چې مور يې په کلي کې اوسیږي او دا ورته ګرانه ده. له هغې نه نوره خبره نه وه.
دغه ورځ د کارغه مور اولدوز ښکل کړه، زوی يې ښکل کړ او والوتله او په بلې کیناسته چې د کارغانو ښار ته لاړه شي.
اولدوز وویل: زما سلام دې هغه بل زوي او د "کارغه پلار" ته ورسوه.
وروسته ورپه یاد شوه چې څه سوغات هم هلکانو ته ولیږي. چوشك يې د کمیس په جیب کې و. میرې ورته اخیستلی و، هغه يې د جیبه راوویست پر زینه بام ته وختله، د کارغانو مور ته يې چوشك ورکړ چې بچیانو ته يې ورکړي. دغه وخت د کارغانو مور والوتله او لاړه د یوې ونې په سر کې کیناسته. مخ يې اولدوز ته راواړه و، قاغ قاغ يې وکړ، والوتله او له سترګو پناه شوه.

### د "یاشار" سره لنډ ملاقات

اولدوز د بام پر سر ولاړه وه. همداسې يې لرې لرې کتل. ناڅاپه ورپه یاد شو چې د میرې له اجازې پرته بام ته ختلې ده. لږه ډار شوه. یو نظر يې شاوخوا کورونو ته وکتل. ریښتیا چې د بام سر څومره ښکلی و. د کیڼي خوا ګاونډي انګړ ته يې وکتل دلته د "یاشار" کور و. یو دم "یاشار" ورو ورو راووت لاړ د سپي کوډګې خولې ته کیناست چې تل خالي وه. یاشار دوه دری کاله د اولدوز نه غټ و. یو هوښیار او مهربانه هلك و. اولدوز چې هر څه وکړل چې یاشار يې ووینې، ونشو. جګ آواز يې هم نشو کولای. ناهیلې کیده چې یاشار سر راپورته کړ، هغه يې ولیده. اول حیران شو، بیا په خوشالی سره د دیوال بیخ ته راغی او وې ویل: اولدوز، ته دلته څه کوی؟
اولدوز وویل: زړه مې په تنګ شوی و. ومې ویل لاړه شم د بام سر ته آخوادیخوا وګورم.
یاشار وویل: میږه دې چیرته ده؟
اولدوزهر څه هیر کړي وو. څو داخبره يې واوریده ورپه یاد شو چې د کارغه بچې يې د انګړ په منځ کې پریښودلې دی. کیدای شي میږه يې راوبینه شي بیا به...افسوس څه بد وشو! په تونډې سره د یاشار نه جدا شوه او راکوزه شوه.
د کارغه بچې يې ونیو او کوډګی ته يې ننویست. غوښتل يې ور پسې بند کړي چې د میږې غږ يې راپورته شو: اولدوز، لاړې په کوم قبر کې پټه شوی؟ ولې ځواب نه راکوئ؟
د اولدوز زړه ولویید. اول يې څه نشو ویلای. بیا يې لږ لاس او پښې راټولې کړې او وې ویل: مورې دلته یم، میتازې کوم. میرې يې نور څه ونه ویل. بلا په خیر او خوښې تیره شوه.

### د کارغانو د مور اعدام

سبا سهار وختي اولدوز له خوبه راجګه شوه. د کارغانو مور قاغ قاغ کاوه او مرسته یې غوښتله. لکه چې څوك وژني او چیغې وهي. اولدوز په منډه انګړ ته راغله میره يې ولیده د توت د ونې لاندې ولاړه ده، د کارغانو مور يې له ونې را ځوړنده کریده، قاغ قاغ کوي. میره يې په لرګي وهي او کنځا ورته کوي، د میرې مخ يې ټپي شوی و او وینې ترې څڅیدلې. کارغه وزرې ښورولې او قاغ قاغ کاوه، د پښو نه ځوړنده وه.
اولدوز په خپله هم پوه نشوه چې د میرې خوا ته يې څه وخت ورمنده کړه پښې يې ورته ونیولې او وې چیچلې. میرې يې چیغه کړه:..... آخ او اولدوز يې له ځانه بیرته کړه او د غوږ بیخ يې ورله په کلکه څپیره وواهه. اولدوز وغورځیده سر يې په ډبرو ولګید بې هوشه شوه او نوره پوه نشوه.